# خودکُش حملې او پاکستان

لیک: اختر علي سید ترجمه او تلخیص عبدالله وردګ

سوات کښې د فوځي اپرېشن شروع کېدو سره حکومت دا اطلاع ورکړه چې څلوېښت خود کُش حمله کونکي د پاکستان لویو ښارونو پله راروان شوي دي. د هغې په سبا په کراچۍ کښې یو څو مشتبه خودکُش حمله کونکي ونیوے شو څو ورځې پس لاهور، پېښور او ډېره اسماعیل خان کښې د حکومتي پېش ګویۍ صحیح کېدو ثبوتونه مونږ ته په لاس راغلۀ. دې حملو سره پاکستان کښې د خودکُش حملو د ماسټر مائنډ بېت الله محسود دا دړکه هم مخې ته راغله چې اوس به د هغۀ کسان د پاکستان په لویو ښارونو کښې چاودنې کوي.

په پاکستان کښې خودکُش حملې چرې هم داسې د بحث او جنګ او جدل موضوع نۀ وې جوړې شوې لکه چې نن سبا دي. حالانکې دا خودکُش حملې د کال ۱۹۹۵ نه جاري دي. د خودکُش حملو منصوبه بندي کونکو تنظیمونو خلاف شروع شوي آپرېشن نه پس دلته په دې موضوع په بحثونو کښې ډېره تېزي راغلې ده. خودکُش حملې دا وخت چې په کوم شمېر په ټوله دنیا کښې رواني دي مخکښې چرې داسې نۀ وې شوې. خو عراق، افغانستان او پاکستان د شمېر په لحاظ سره سرفهرست دي. دلته په ټوله دنیا کښې د شوو خودکُش حملو یو جدول ورکولے شي:

کۀ د دې ملکونو په صورت حال نظرثاني وشي چې چرته خودکُش حملې په یو لوئے شمېر او تسلسل سره کولے شي نو معلومه به شي چې دا یا خو په هغو ملکونو کښې کېږي چرته چې د ازادۍ تحریکونه چلېږي لکه سري لنکا او فلسطین یا بیا هغو ملکونو کښې وي چرته چې بهرني فوځونه راغلي وي لکه عراق او افغانستان. هسې خو خودکُش حملې امریکه، برطانیه، سعودي عرب،

تسلسل سره کېدونکې خودکُش حملې

| ملک | ۲۰۰۲ | ۲۰۰۳ | ۲۰۰٤ | ۲۰۰۵ |
|---|---|---|---|---|
| اسرائیل | ۵۵ | ۲۵ | ١٤ | ۷ |
| عراق | ۰ | ۲۰ | ٦۸ | ١٤٤ |
| افغانستان | ۰ | ۲ | ٤ | ۸ |
| چیچنیا | ۲ | ١۲ | ۲ | ١ |
| پاکستان | ۲ | ۲ | ۸ | ۳ |
| سري لنکا | ۰ | ۰ | ١ | ۲ |
| سعودي عرب | ۳ | ١ | ١ | ۰ |

بنګله دېش، هندوستان او صومالیه غوندې ملکونو کښې هم کېږي خو دا حملې د شمېر او نقصان په لحاظ سره ډېرې کمې وي او په سیاسي اعتبار سره هم لویې نتیجې پېدا کولو کښې ناکامه کېږي. پاکستان د دنیا هغه یواځینے ملک دے چې

چرته خودکُش حملې د ۲۰۰۲ نه په يو لوئې شمېر کښې مسلسل روانې دي. حالانکې نۀ دلته د ازادۍ څۀ تحريک روان دے او نۀ دلته بهرني فوځي قوت راغلے دے. په دې لحاظ سره پاکستان کښې کېدونکې خودکُش حملې په خپل نوعيت کښې ډېر منفردې دي.

پاکستان کښې کېدونکې دا خودکُش حملې کله د ډرون حملو رد عمل ګرځولے شي او کله د امريکې د دهشت ګردۍ خلاف په جنګ کښې د پاکستان د شامليدو ردعمل او نن سبا دا د فوځي اپرېشن رد عمل ګرځولے شي. شايد د دې دليلونو پېش کونکي پاکستاني حملې د فلسطين او لبنان کښې کيدونکو حملو په شان ګرځول غواړي. خو کۀ مکمل اعداد او شمار مخې ته کېښودے شي نو دا تاثر پېدا کول به ډېر ګران شي.

په پاکستان کښې وړومبۍ خودکُش حمله په نولسم نومبر ۱۹۹۵ کښې د مصر په سفارت خانه شوې وه. د مشهور برطانوي صحافي عبدالباري اټون مطابق القاعده دا حمله د تنظيم الجهاد د غړو مصر ته د حواله کولو د پاکستاني اقدام رد عمل ګڼلے وۀ. هغه وخت نۀ خو ډرون حملې وې نۀ فوځي اپرېشن وۀ او نۀ د نائن اليون پېښه شوې وه او نۀ هغه وخت د دهشت ګردۍ خلاف جنګ شروع شوے وۀ. بلکې دا هغه زمانه وه چې پاکستان او امريکه طالبانو له د خپل اتحادي په توګه په وسله، پېسه او تربيت ورکولو کښې مصروف وو او پاکستان کښې د طالبانو دوستان په افغانستان کښې طالبانو د حکومت په نشه مست وو. دا صحيح ده چې د دې حملې نه پس اووۀ کاله بېخي خاموشي وه خو په ۲۰۰۲ کښې شروع کېدونکې دا سلسله تر اوسه جاري ده.

په اتمه مۍ ۲۰۰۲ په کراچۍ کښې په شېرټن هوټل د خودکُش حملې په نتيجه کښې څوارلس تنه مړۀ شوي وو چې پکښې يولس فرانسيسي انجنئيران هم شامل وو او دغو ټولو انجنئيرانو په پاکستان کښې د آبدوز جوړولو په يو پراجېکټ کښې کار کولو. ګمان دا کولے شو چې دا حمله القاعده کړې ده خو د دې ذمه واري هيچا نۀ وه قبوله کړې خو دا خبره ترې په ډاګه شوې وه چې حکمت عملي غېر ملکي وه. ورپسې په نهم جون ۲۰۰۲ په امريکني قونصلېټ حمله وشوه چې ذمه واري يو غېر معروف تنظيم القانون قبوله کړه. دې حملې ته افغانستان کښې د امريکې د دهشت ګردۍ خلاف د جنګ کولو ردعمل وئيل مشکل نۀ دي.

په کال ۲۰۰۳ کښې پاکستان کښې فرقه وارانه حملې شروع شوې. په ۲۰۰۳ کښې په کوئټه کښې امام بارګاه کښې خودکُش حمله وشوه چې پکښې درې پنځوس شيعه مړۀ او اووۀ پنځوس زخميان شو. هسې خو فرقه وارانه حملې پاکستان کښې د ۱۹۸۰ نه شروع شوې وې خو د دې په نتيجه کښې کېدونکو خودکُش حملو کښې دا وړومبنۍ واقعه وه. تر اپرېل ۲۰۰۹ پورې شوو يو سل اتۀ شپېتۀ خودکُش حملو کښې شپاړس د شيعه ګانو خلاف شوي دي او په کراچۍ کښې يوه حمله د برېلوي سني مسلمانانو خلاف شوې ده. د پاکستان د مسلمانانو د ټولو مسلکونو سره تعلق لرونکي په دې واقعاتو کښې مړۀ شوي دي خو د خودکُش

حملې زيات ښکار شوي شيعه دي. ديوبندي، وهابي او اهل حديث مسلمانان چرې هم د خودکُش حملو ښکار شوي نۀ دي. دا صورتحال تر څۀ حده د عراق په شان دے.

کۀ د دنيا د نورو ملکونو د خودکُش حملو مطالعه وکړې شي نو معلومه به شي چې په دغو ملکونو کښې خودکُش حمله آورو نه هيرو ګان جوړولے شي. د هغوي د حملې نه مخکښې پېغامونه ريکارډ کولے شي د هغوي په مرګ د هغوي پوسټرې چاپ کولې شي او د هغوي د خاندان خلق د هغوي ذکر په ډېر فخر کوي. خو د پاکستان صورت حال د دې نه بېخي مختلف دے. د دې خودکُش حملـه کونکو متعلق علم تقريباً د نشت برابر دے د دوي خو دا پته هم نۀ لګي چې دا د کوم ملک وو.

پاکستان کښې د کېدونکو خودکُش حملو نه مونږ دا يو څو نتيجې اخذ کولې شو چې:

پاکستان د دنيا واحد ملک دے چې پکښې خودکُش حملې د غېر ملکي قبضې او د ازادۍ د تحريک نه علاوه د څۀ بلې وجې کولې شي چې هغه چاته معلومه نۀ ده.

د عراق نه پس پاکستان هغه يواځينے ملک دے چرته چې دا حمله کونکي بې ګناه خلق په نخښه کوي تر دې چې په افغانستان کښې هم داسې نۀ کېږي.

د عراق په شان پاکستان کښې هم مختلفې ډلې د خپلو مقصدونو دپاره خودکُش حملې کوي.

پاکستان کښې د خودکُش حملو کونکو يو لوئے شمېر د ديوبندي او وهابي مسلک سره دے هر څو کۀ د دې مسلک عالمانو د دې خلاف فتوې هم ورکړې دي خو د دې حملو په شمېر کښې کمے نۀ دے راغلے.

پاکستان کښې دې حملو ته د عوامو تائيد حاصل نۀ دے.

پاکستان کښې د خودکُش حملو منصوبه بندي کونکو تنظيمونو د حماس، حزب الله او تامل ټائيګرز سره موازنه د څو وجوهاتو له بنياد ممکنه نۀ ده او نۀ صحيح ده.

پاکستان هغه يواځينے ملک دے چرته چې خود کُش حمله کونکے په پېسو هم اخستے شي او د دې شواهد موجود دي.

د يوې خاص واقعې د دهشت ګردۍ خلاف جنګ يا فوځي اپرېشن هم په مکمله توګه د دې وجه ګرځول ټيک نۀ دي.

په دنيا کښې خودکُش حملو کښې ککړ خلق او تنظيمونه د معاشرې د يو نه يو ګروپ نمائندګان وي. تامل ټائيګرز د سري لنکا د تامل خلقو، حماس د فلسطينيانو او حزب الله د لبنان د خلقو کوم چې د اسرائيلو د قبضې او په دغه علاقه کښې د امريکې د تسلط خلاف دي نمائنده تنظيمونه ګڼلې شي. ولې په پاکستان کښې دا خود کُش حملې کونکي تنظيمونه نۀ د مذهبي، نۀ د سماجي، نۀ د نظرياتي، نۀ د لساني او نۀ د علاقائي ډلو نمائندګان دي او نۀ دا دعوٰي کوي. د دنيا نور دا قسم تنظيمونه د دې مسلح جدوجهد نه علاوه نور سماجي او فلاحي کارونه هم کوي او همېشه ئې د جمهوري ادارو کردار ادا کړے دے ولې د پاکستان دې تنظيمونو چرې داسې نۀ دي کړي. ▪